# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد | بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم | از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com | www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |



مینا اسدی
ژباړه: فرهاد ویاړ
22.03.09


## هو کړه ها کړه

کله چي ستا سور غړ د ښار په کوڅو کي
توی شو
تا زما تر ټولو ښه شعر وواېو، ای ځوانه
ته کولای شی د انسانانو د درد او رنځ
او د خطر ډک ښار ته یوی نوی شعر وواییی
د باغونو له شور و شوق نه
د سپرغو له ډکو لمبو نه
او د لمدو سترګو نه، یو شعر وواییی

***
هو کړه ها کړه
پاڅون کړه، غوغا کړه
هو کړه، ها کړه
دنیا رنګه، ګرنګه
هو کړه ها کړه
جوړ قیامت
هو کړه  ها کړه
دنیا رنګه، ګرنګه
ته کولای شی کلی ووسئ، د وروںو کلپونه خلاص کړی
پینه ترلی لاسونه د ځنځیرونو جلا کړی
ته کولای شی د شپی بلا رسوا کړی، رسوا کړی
هو  کړه ها کړه
پاڅون کړه غوغا کړه
هو  کړه ها کړه
دنیا رنګه ، ګرنګه
هو  کړه ها  کړه
جوړ قیامت
هو کړه ها کړه
دنیا رنګه، ګرنګه
زوړ شه
سپرغی شه
څپه شه

خزر شه
د ولس د قهر فریاد شه
پر ثمره غورځنگ شه
سرو شه
سمن شه
شپه وژونکی ډیوه شه
وریبه، لور شه
ځمکه قلبه کړه
هو کړه ها کړه
پاڅون کړه غوغا کړه
هو کړه ها کړه
دنیا رنگه ، گړنگه
هو کړه ها کړه
جوړ قیامت
هو کړه ها کړه
دنیا رنگه، گړنگه
ویاله شه
روان شه
د بی کسانو پناه شه
د غنمو کرونده شه
د ډوډۍ د درد چاره شه
لاره شه
آزاد شه
***
د توپونو غراری شه
د ولس سترگی شه، څراغ شه
بیا له سره راپاڅیږه
هو کړه ها کړه
پاڅون کړه غوغا کړه
هو کړه ها کړه
دنیا رنگه، گړنگه
هو کړه ها کړه
جوړ قیامت
هو کړه ها کړه
دنیا رنگه، گړنگه
که ته وغواړی
جوړ به قیامت کړی
ستومانه کوترې
خوشی به له قفس کړی
ته کولای شی حوضونه سیندونه کړی، سیندونه کړی
هو کړه ها کړه
پاڅون کړه غوغا کړه
هو کړه ها کړه
دنیا رنگه، گړنگه
هو کړه ها کړه
جوړ قیامت
هو کړه ها کړه
دنیا رنگه، گړنگه
هو کړه ها کړه
هو کړه ها کړه

ای ځوانه ته کولای شی د انسانانو د درد او رنځ
او د خطر ډک ښار ته یوی نوی شعر ووایی
د باغونو له شور و شوق نه
د سپرغو له ډکو لمبو نه
د لمدو سترګو نه، یو شعر ووایی
هو کړه ها کړه
پاڅون کړه، غوغا کړه
هو کړه، ها کړه
دنیا ړنګه ، ګړنګه
هو کړه ها کړه
جوړ قیامت
هو کړه ها کړه
دنیا ړنګه، ګړنګه
هو کړه ها کړه.